# بله ډیوه بله شوه

د پښتو نظم جولۍ ته د نوی صنف ډالۍ ''درېواله''



نن زما د زړۀ په اور
بله ډیوه بله شوه
غوا ړمه چې شی تکور
نن زما د زړۀ په اور
اومومی سرور او سور
بیا هر یو زپلے زړۀ
نن زما د زړۀ په اور
بله ډیوه بله شوه

نقیب احمد جانؔ

ټول حقونه د لیکوال په حق کښې محفوظ دی

دکتاب نوم: بله یې وه بله شوه

لیکوال: نقیب احمد جان

دلیکوال درک: کلها ویلا خانه کبل سوات 0345 951 6961

کمپوزر: سعید احمد انجم

پروف: اتل افغان

انتخاب: محمد الیاس ثاقب

د چاپ نېټه: اکتوبر ۲۰۱۱ع

شمېر: ۱۰۰۰

بیعه: ۱۰۰ روپۍ

چاپه خانه: مشرف پرنټنګ ایجنسی پېښور

چاپ چارې: جان کتاب کور کبل سوات

د موندلو درکونه

یونیورسټی بُک ایجنسی پېښور

پښتو اکېډمی بُک شاپ پېښور پوهنتون

شعیب سنز پبلشرز منګوره سوات

معراج بک سیلرز کبل سوات

# نیون

دکب لکلی د ځلورو ستر وشاعرانو لخیلو وپه‌نوم : یعنې

۱. د سیف الملوک صدیقی صیب په نامه چې ګرده نړی ئې د ( زۀ لنتظار کۆمه ستا د ستړګ و) په انګ ی پیژنی -

۲. د عبداللطیف شاهین صیب په نامه چې خوا و شا د شپیتو کالو نه لا تر اوسه لګیا ده خپلې نغمې د پښتو شاعرۍ جولۍ ته چالیکوی -

۳. د شېر محمد شېر صیب په نامه چې داوطاونو ه ژوند په نامه ئې ناولونه چاپ دی -

٤. د مولوی ګلبر خان صیب په نامه چې دیوبند او منله شوی کتاب سره سره یو ښه مترجم او عالم هم وو -

---

نقیب احمد جان

# فهرس


- درېواله (خنګه او ولې)　جان　5
- درېواله يو اخذ يو تقليد　طائر　21
- يادابنت　حکيم زے　31
- ترائيولټ، درېواله، تريکۍ که دريکۍ　سيماب　36
- جان په ما ګران　اتل　44
- حمد　47
- نعت　48
- قرآن　49
- بله ډيوه　50
- شمع　51
- درېواله　52
- زړګيه　53
- پخپله　54
- نۀ لاس مې وو تړلی　55
- يو لهر　56
- پېغور　57
- خپل قام　58
- بېلتون　59
- ارام　60
- يو تکے　61
- نخښه　62
- د مينې راز　63
- غم د خپل اولس　64
- ښکلا　65
- غم د الفتونو　66
- زۀ　67
- يو وخت وو　68
- رنګونه　69
- د امن سپين سبا　70
- قېد　71
- فرهاد　72
- له ازله　73
- مزدوره　74
- جانان　75
- اسلام　76
- اتل افغان ته　77
- د پښتون دبدبه　78
- د راز خبره　79
- امن　80
- دوۀ سترګې　81
- د ژوندون قيصه　82
- دا سفر　83
- خوارۀ وختونه　84
- پاکستان　85
- استاذ　86
- مور او پلار　87
- حېرت　88
- سوات　89
- ارتقاء　90
- تباهي　91
- د ايلم غر　92
- ائينه　93
- خدائے خبر　94
- تماشه　95
- ګلالۍ　96
- د زړۀ صبر　97
- د نن پښتون　98
- اختر　99
- طناب　100

# باسـمه تعالی

# دریــــواله ...

## (ځـــنګه او ولــــې)

الله تعالی چې کله دا اراده اوفرمائیله چې د زمکې په مخ ژوند پیدا کړی - نو هغه د زمکې په فطرت کښې رنګارنګی کیښوده - هم په دغه اندازئې د زمکې په مخ د ژوند کؤنکو ټولو مخلوقاتو په فطرت کښې دا خبره کیښوده چې دوئ به دا رنګارنګی خوښوی - دا نهٔ ختمیدونکے بدلون به ددوئ د ژوند یوه لازمه او اهمه برخه وی - لکه چې د اُردو ژبې ستر شاعر علامه اقبال فرمائی

سکوں محال ہے قدرت کے کارخانے میں
ثبات ایک تغیر کو ہے زمانے میں 1

"سکون او جمود د الله تعالی په کارخانه (دنیا) کښې ډیر ګران دے - دوام صرف او صرف یو بدلون اورنګار نګۍ ته په دنیا کښې حاصل دے."

هم دغسې د پښتو ژبې نامتو شاعر غنی خان په دې الفاظو دې حقیقت ته اشاره کوی چې :



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

ژوند او قرار، اور او اوبه دی نه به یو ځائے شی نه یو ځائے کیږی۲

او یا لکه بل ځائے دا رنګه وائی چې :

بنده نوی رنګ محل کښې نوے نوے جانان غواړی
بیابان کښې سرهٔ ګلونه، توره شپه چراغان غواړی
تل تیاره کښې دے روکیږی ،تل رڼا کښې هم ړندیږی
دے بچے د تغیر دے، یو حالت کښې نه ټینګیږی ۳

هم دغه تغیر دے چې دنیا ئې له مخه دوام لری - هم دغه بدلون دے چې د انسان ژوند پرې ښائسته دے - هم دغه رنګارنګی ده چې د ژوند ورځې شپې پرې تېرېږی -

انسان ته معاشرتی حیوان وئیلے شی - دے به ارومرو د یواولس یوه اکائی (وګړے) وی - چې د دغه اولس ټولې خوبیانې او خرابۍ به په دهٔ کښې موندے کیږی - د دې سره سره د مختلفو اولسونو د یو بل سره تګ راتګ اواړیکې هم یو لازم او مهم اهمیت لری - د دوؤ اولسونو د یوبل سره دا تعلق په رنګارنګ اړخونو کېدے شی - چې پکښې یو د ژبې او ادب اړخ دے - د دنیا د مختلفو ژبو ادبیات زیاتره د یو بل د اثر لاندې دی. ځنې حصې د ادبیاتو داسې وی چې هغه کُلی او مجموعی طور هم د دغه ژبې د ادبیاتو ځانګړی او



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

خپلې حصې وی او بیا ځنې نورې داسې حصې چې هغه د دغې ژبې ادیبانو او شاعرانو د نورو ژبو او د نورو اولسونو په تاثر کښې د هغوئ د ادبیاتو په ترخ کښې خپلې کړی او په وړاندې بوتلی وی - د نورو ژبو د ادبیاتو ښائسته او د اثر نه ډکې حصې په خپله ژبه کښې ترجمه کؤل د ادبیاتو د دنیا یوه مهمه برخه ګرځېدلی ده - هم دغسې د نورو ژبو د ادبیاتو اصناف په خپله ژبه کښې راوستل او ورله خپل اولسی او ادبی رنګ ورکؤل هم یو ډېر زوړ روایت لری -

د دې تمهید نه ورستو زهٔ دې خبرې له راځم چې (درېواله) کوم چې زما د دې مقالې عنوان دے - څه شے دے؟

د مطالعې په دوران کښې زما د نظر نه د اُردو نظم یو نوے صنف تېروتو چې ورته ئې (ترائیلے) لیکلے وو - هغه څه په دې ډول وو چې:



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

یہ تمہاری کوکھ سے جما نہیں ہے
اس سے تیرا کیا کوئی رشتہ نہیں ہے
یہ ہمارے ہاتھ کا لکھا نہیں ہے
یہ تمہاری کوکھ سے جما نہیں ہے
اس کا ہونا پھر کوئی ہونا نہیں ہے
اس کی ماں بے شک کوئی سیتا نہیں ہے
یہ تمہاری کوکھ سے جما نہیں ہے
اس سے تیرا کیا کوئی رشتہ نہیں ہے ۴

دا صنف په ما ډېر ښه اولګېدو- هم په دغه صفحه ئې دا لیکلی دی چې:

یہ صنف اُردو میں مغرب سے آئی ہے۔ انگریزی میں اسے Triolet کہتے ہیں ۵

چې د مغرب خبره راغله نو ما د انګریزۍ ژبې لغت راواخستو په هغې کښې ئې د دې صنف تعریف څه په دې ډول ورکړے دے -

A poem of eight (usually eight syllabled) lines, rhyming abaaabab, in which the first line recurs as the fourth and seventh and the Second as the eighth. ۶

(دا ته ؤکرښو (مصرعو) نظم چې د قافیو ترتیب ئې داسې دے abaaabab چې پکښې اولنۍ مصرعه په څلورمه او اوومه مصرعه بیا راځي. او دویمه مصرعه په اتمه مصرعه)


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

د انګریـزۍ ژبـې د دویـم لغـت (Chambers Twentieth Century Dictionary) له مخه ئې وضاحت څه په دې ډول دے -

An eight lined poem rhymed ab aaa bab, lines 4 and 7 repeating 1, and 8 repeating 2. ۷

(یـو دا تـه ؤ کربنـو (مصـرعو) نظـم چـې د قـافیو ترتیـب ئـې د ے- Abaaabab په څلورمه او اوومه مصرعه اولنۍ مصرعه بیـا راځـی - او په اتمه مصرعه دویمه )

د Dictionary of literary Terms په ضمن کښې Teriolet داسې لیکی.

Triolet: (Fr. Little Three) A fixed verse form, French in origin. Eight lines, often of tetra meter, are rhymed abaaabab:

The first, forth and seventh lines are identical (or Similar) as are the second and last. A short form used chiefly in the last nineteenth century. ۸

یو (Fixed verse) یعنې (ټاکلے صنف) چې ابتدا ئې په فرانس کښې اوشوه. د قافیو ترتیب ئې دا د ے - abaaabab اته کربښې (مصرعې) چې زیـاتره پـه Tetrameter کښـې وی - اولنـۍ څلورمـه او اوومـه مصـرعه ئـې یـو شـان (اویـایوه) وی - او هـم دغسـې دویمـه او اتمـه



پښتو ډاټ نیټ Pukhto.net

مصرعه - د نظم یو لنډ صنف چې د نو لسمې صدۍ په اخری برخه کښې ډېر لیکلے شوے دے.
هم په دغه لغت کښې ئې د مثال په توګه د Robert Bridge دا نظم(Triolet)راوړے دے -

When first we met we did not guess
That love would prove so hard a master
Of more than common friendliness
When first we met we did not guess.
Who could foretell this sore distress,
This irretrievable disaster,
When first we met? We did not guess
That love would prove so hard a master. ۹

انسائیکلو پیډیا ویکیپیډیا د ټرائیولټ په حقله داسې لیکی

**Triolet A triolet (pronounced /ˈtraɪ.əlɨt/ or US: /ˌtriː.əˈleɪ/ ) is a one stanza poem of eight lines. Its rhyme scheme is AbaAabAB.** ۱۰

(**Triolet** د یو بند او اته کرښو (مصرعو) نظم دے - د قافیو ترتیب ئې **ABaAabAB** دے)



پښتو ډاټ نېټ Pukhto.net

د Conrad Gellar مطابق په فرانسیسي ژبه کښې Triolet په دیارلسمه صدۍ عیسوي کښې شروع شوے دے- ۱۱

هغه په خپل مضمون کښې وائی چې په پخوانو فرانسیسي اصنافو کښې زیاتره داسې اصناف وو- چې شاعری پکښې ډېره ګرانه وه- ځکه چې اکثرو بېشتر به په دغه نورو اصنافو کښې یو شاعر له خواؤشا شپږ، ډېرش قافیې لټول وو- کوم چې یو ګران کار دے- هغه وړاندې لیکی. چې په دغه زړو اصنافو کښې یو Triolet هم وو- چې د ټولو نه پخوانے او د ټولو نه اسان دے - لکه چې وائی:

But there is one of those old French forms, the oldest and simplest of them all, that deserves a look from the contemporary poet: The Triolet. ۱۲

Conrad Geller د دې نظم (شعری هیئت) Triolet جوړښت د خپلی لیکلی یو Triolet د مثال سره سره د وضاحت په انداز کښې داسې بیانوی چې:

It is best to begin a triolet with a statement or observation.

پکار ده چې Triolet د یوې ښه جملې یا مشاهدې نه شروع شی -

You have to write a triolet
If you would make your name immortal



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

بیـا وائـی the third line rhyme with the first "دریمـه مصـرعه د اولنۍ سره هم قافیه وی "

To get a form that fit and set

بیـا وائـی Then you repeat the first line اولنـۍ مصـرعه بیـا اولیکه.دغسې اولنۍ څلور مصرعې داسې شوې ـ

You have to write a triolet
If you would make your name immortal.
To get a form that fit and set
You have to write a triolet.

د دې نه وروستو بله مصرعه چې د اولنـۍ مصـرعې سـره هـم قافیـه وی. (دلته ته خیال بدلولے شې)

From Free verse all you get

بیـا یوه بله د دویمې مصرعې سره هم قافیه مصرعه

Is just another yawn or chortle.



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

بس اوس صرف اولنۍ دوه مصرعې بیا اولیکه - هم دغه ټول نظم دے - د (Conrad Geller)دا نظم چې یو ځائے اولیکلے شی نو څه داسې به وی -

You have to write a Triolet
If you would make your name immortal
To get a form that's fit and set
You have to write a triolet
From free verse all you ever get.
Is just another yawn or chortle
You have to write a triolet
If you would make your name immortal. ۱۳

بناغلے J.Zimmerman د Troilet د جوړښت په باره کښې څه داسې لیکی.

- 8 Lines
- Two Rhymes
- 5 of the 8 lines are repeated or refrain lines
- First line repeats at the 4th and 7th line.
- Second line repeats at the 8th line ۱۴



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

او بیا د دې نه وروستو هغه د دې د قافیو ترتیب ډېر په ښه ډول وړاندې کوی - وائی چې

Rhyme scheme (Where an upper- case letter indicates the appearance of the identical line, while a lower-case letter indicates a rhyme with each line designated by the same lower-case or upper case- letter)

(ABaAabAB) ۱۵

د قافیو ترتیب ( په غټ ډول لیکلے شوے تورے Alphabetهو بهو یو شان راتلونکی مصرعې څرګند وی- او په ورکوټی ډول لیکلے شوی توری د ځان غوندې تورو سره هم قافیه مصرعې راوړی-

(ABaAabAB)

وړاندې ښاغلے J- Zimmerman د نظم د جوړښت په حقله دا خبره زیاتوی چې:

Many Poets begin writing a Triolet by preliminary but memorable couplet. These two lines are strong enough and interesting enough to open the stanza, close the stanza and provide more than half of the eight lines of the poem. Remember that these two lines do not rhyme. ۱۶



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

اکثر شاعران د يو ښه او د ياد ساتلو وړ شعر په موندو Triolet ليکي. دا دوه مصرعې دې دومره مضبوطې او دومره زړه راښکونکې وي چې نظم پرې شروع کړے شي، ختم کړے شي او د اته ؤ مصرعو د نظم د نيمې نه زياته برخه دې هم د دې نه جوړه وي- ياد ساتل پکار دي- چې دا دوه مصرعې (اولنۍ) دې هم قافيه نه وي-

د دې وينا له مخه د اُردو هغه (ترائيلے) چې ما د مثال په توګه راوړے دے په معيار پوره نۀ خېژي- له دې وجې نه دلته خپل يو ليکلے (ترائيلے) وړاندې کومه چې:

وہ آوارہ سی اک لڑکی
سراپا رنگ و نکہت
میرے دل کی ہے وہ رانی
وہ آوارہ سی اک لڑکی
میں اس کے بن نہیں کچھ بھی
اسے ڈھونڈوں بہر قیمت
وہ آوارہ سی اک لڑکی
سراپا رنگ و نکہت

دلته زۀ هغه خبرې له بيا راځم چې د دنيا د ټولو څيزونو په څېر ادب او د ادبياتو اصناف هم د تغير او بدلون د دې قانون په زد کښې دي-



پښتو ډاټ نېټ Pukhto.net

ډېر کراته داسې اوشی چې څه اصناف چې په څه وخت کښې ډېر ارزښت لری او خوښولې شی ، څه موده وروستو خپل حېثیت اوبائیلی - او ځنې نور داسې اصناف چې څوک ورته ډېره توجه نۀ ورکوی د تغیر او بدلون د دې قانون لاندې ډېر اهمیت او ارزښت پېدا کړی - او د اولس سره سره د ادیبانو او شاعرانو په زړونو کښې ځائے بیا مومی - یا بیا داسې هم اوشی چې نوی اصناف د نورو ژبو نه راشی او د قبولیت سند حاصل کړی - په پښتو ژبه او ادبیاتو په لنډه ماضۍ کښې د دې ښکاره او مهم مثال هائیکو ده - چې د جاپانی ادبیاتو نه راغله ، او داسې په پښتو ادبیاتو کښې ځائے شوه لکه چې خاص د پښتو ادبیاتو صنف وی -

هم په دغه غرض د Triolet د مطالعې او د دې په جوړښت د ځان پوهه کؤلو نه وروستو ما دا اوغوښته چې دا نظم دې پښتو شاعرۍ ته هم راوړے شی - او په دې ترڅ کښې ما د دې خبرې لټون هم اوکړو چې آیا تر نن ورځې په پښتو ژبه کښې چا د نظم دا هیئت لیکلے دے او که نۀ ؟ خو د خپل اطمینان تر حده لټون نه وروستو زۀ په دې نتیجه اورسېدم چې په پښتو ادبیاتو کښې لاتر اوسه د دې هیئت نمونه نشته -


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

په دې نظم ما کار شروع کړو - او يو شمېر نمونې مې پکښې اوليکلې - اګر چې دا صنف د فرانسيسۍ نه انګريزۍ ته هم د فرانسيسۍ نامې سره راغلے دے - خو ما دا خبره غوره اوګڼله چې زۀ دې ورله په پښتو ژبه کښې نامه کېږدم - د فرانسيسۍ ژبې د Triolet په څېر چې معنی ئې ده - Little Three (واړۀ درې) او مراد ترې دے هغه نظم چې مهمه برخه ئې هم هغه مصرعه ده چې درې ځله پکښې راوستے شي، ما د دې نظم نامه (درېواله) کېښوده -

اګر چې J. Zimmerman وائی چې

While the Triolet is often used to express humour. ۱۷

(اکثر Triolet په مزاحيه انداز کښې ليکلے شوے دے) خو بيا هم د هغه د دې خبرې مطلب دا هرګز نۀ دے چې په Triolet کښې سنجيده مضامين نۀ دی ځائے کړے شوی -

د Triolet مزاج که په فرانسيسۍ کښې مزاحيه دے يا سنجيده زما د دې خبرې سره هېڅ کار نشته - په پښتو کښې تر خپله حده ما دا کوشش کړے دے چې په دې نظم (درېواله) کښې دې هره موضوع او هر مضمون اوچېړلے شي - ځکه چې زۀ غواړم چې دا يو خوندور او ښائسته صنف دے نو د يوې خاص موضوع يا مضمون پابند دې او نۀ ګرځولے شي - ښه به دا وی چې په پښتو ادبياتو او


پښتو ډاټ نیټ pukhto.net

شاعري کښې دا د ژوند د هر اړخ او د انسانانو د هرې جذبې ترجماني اوکړي -

بله دا چې د شاعري د ځنې اصنافو په رنګ په (دربواله) کښې د وزن او بحر قېد هم غورځول نۀ غواړم چې هغه د دې لار اونيسي - په هر بحر کښې دې اوليکلے شي - او په هره موضوع دې اوليکلے شي - نظم د ے نو عنوان ليکل پرې لازمي ګڼم -

د مثال په توګه دا دوۀ نظمونه چې بېل بېل مضمونونه لري -

## ښکلا

يو برېښ د سپوږمۍ شاته په اسمان کښې ځلېدو
يو پړق د سپوږمۍ وړاندې وو په زمکه زما خوا ته
يو ستورے چې له ورايه غلے غلے پړقېدو
يو برېښ د سپوږمۍ شا ته په اسمان کښې ځلېدو
په غېږه کښې مې ګل په نرمو شونډو خندېدو
سپوږمۍ ورته حېرانه وه هم ستورے ئې خندا ته
يو برېښ د سپوږمۍ شا ته په اسمان کښې ځلېدو



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

یو پړق د سپوږمۍ وړاندې وو په زمکه زما خوا ته

## تباهی

انکار کؤمه چرته زۀ د سائنس له اهمیته
خو دا چې تباهی ئې دومره نۀ وے جوړه کړې
اوس ولې به انسان چغې وهلې د هیبته
انکار کؤمه چرته زۀ د سائنس له اهمیته
یو داسې دیو ترې جوړ شو چې هر څه وهی په لته
ښارونه ئې هم وران کړل هم ئې خوشکې هم ئې کلی
انکار کؤمه چرته زۀ د سائنس له اهمیته
خو دا چې تباهی ئې دومره نۀ وے جوړه کړې

اوس دا خو به وخت ثابتوی - چې په دې صنف (دربواله) کښې د پښتون وګړی جذبات او احساسات تر کومه حده ځائے کیدے شی او دا چې د پښتو ژبې شاعران او ادیبان د دې صنف تر کومه حده روزنه یا غندنه کوی - زما تر حده چې څه وو هغه ما اوکړل او په ډیره مینه او خلوص ستاسو په وړاندې دی - د دې دُعا سره چې الله دې اوکړی



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

چې پښتون اولس د خپلې ارتقاء په اسمان لکه د ځوارلسمې د سپوږمۍ اوځليږي - او په پلوشو ئې نه يواځې پوره پښتونخوا بلکې ګرده نړۍ روښانه شي -- آمين

نقيب احمد جان
۲۱ ستمبر ۲۰۱۱ع

# حوالې

| نمبر | ليکوال | د کتاب نامه | چاپونکے | د چاپ کال | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | علامه اقبال | کليات اقبال | الفصيل ناشران و تاجران کتب لاهور | ---- | ۱۱۱ |
| ۲ | غني خان | کليات غنی | د قومونو او قبائلو وزرات | ۱۹۸۵ء | ۸۳ |
| ۳ | غني خان | کليات غنی | د قومونو او قبائلو وزرات | ۱۹۸۵ء | ۸۳ |
| ٤ | پروفيسر ډاکټر سيد اختر جعفری | اردو جنرل (اردو زبان و ادب) | پبلشرز ايمپوريم لاهور | ۲۰۱۱ء | ۳۳۰ |
| ٥ | پروفيسر ډاکټر سيد اختر جعفری | اردو جنرل (اردو زبان و ادب) | پبلشرز ايمپوريم لاهور | ۲۰۱۱ء | ۴۷۷ |
| ٦ | Joyce M Hawking | Oxford reference Dictionary | Clarendon Press, Oxford | ۱۹۸۷ء | ۸۸۰ |



پښتو ورلډ بنډ
Pukhto.net

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | A.M Macdonald | Chambers Twentieth Century Dictionary | W & R Chambers | ۱۹۷۳ء | ۱۴۴۰ |
| ۸ | Martin Gray | A Dictionary of literary terms | Longman york Press | ۱۹۹۴ء | ۲۹۴ |
| ۹ | Martin Gray | A Dictionary of literary terms | Longman york Press | ۱۹۹۴ء | ۲۹۴ |
| ۱۰ | http://en.wikipedia.org/wiki/Triolet | | | | |
| ۱۱ | http://www.writing-world.com/poetry/triolet.shtml | | | | |
| ۱۲ | http://www.writing-world.com/poetry/triolet.shtml | | | | |
| ۱۳ | http://www.writing-world.com/poetry/triolet.shtml | | | | |
| ۱٤ | http://www.baymoon.com/~ariadne/form/triolet.htm | | | | |
| ۱٥ | http://www.baymoon.com/~ariadne/form/triolet.htm | | | | |
| ۱٦ | http://www.baymoon.com/~ariadne/form/triolet.htm | | | | |
| ۱۷ | http://www.baymoon.com/~ariadne/form/triolet.htm | | | | |



# درې واله، يو اخذ يو تقليد

## (د فرانسيسي صنف **Triolet**)

پروفيسر محمد نواز طائر



pukhto.net

د دنیا په مخ چې هر یو فنکار ، مفکر ، مصور ، تخلیق کار او معمار د خپلو فکرونو په دنیا کښې ژوند تېروی ، هغه همېش دپاره په ورکه سر وی – تل د ښه نه د ښه په تلاش او جستجوکښې وی - دا فلسفی وی ، که شاعر ، مصور وی که سنګتراش ، دا ئې خواهش وی چې داسې څه مخې ته راولی چې د دۀ خپلې انا ته پرې تسکین اورسی او نوره دنیا هم ترې خوندونه واخلی –د دۀ دا خاصیت په دۀ کښې خپل هاغې غېر مرئي قوت را زېږولې وی ، چې په عرفِ عام کښې ورته عشق وائی –دا حقیقت دے چې عشق ام الکتاب دے –دے هم ښائست وینی او هم ښائست تخلیق کوی- حسن د دۀ دپاره د ژوندون د کتاب یو ټکے دے –یوه مرکزی نقطه ده –دغه سبب دے چې دے هم د نور او رنګ د ښکلا ګانوبلد دے او هم د تیارې او تورتم او حزن و اندوه د ځیګر سوزۍ سره اشنا دے –لنډه دا چې د ژوند د ساز او اواز په هر یو زېر و بم کښې د عشق تداخل دے –په عشق کښې هم جنون دے او هم پکښې سکون دے –دا هم ځان دے هم جانان دے –دا دواړه هاغه معراجونه دی چې انسان ئې د خلا قیت د معراج پله په


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

یون کړے دے - د حسن او رعنائئ ټولې پرتوګانې او د حزن و ملال هر کیفیت انسان له دغه غیر مرئي طاقت د مخه موندی دی-

فن په هر شکل او هر صورت کښې چې دے او فن کار چې د کوم نسل او کوم میدان دے هغه په خپل ځائے هاغه څه کړی دی یا ئې کول غواړی چې د ښه نه د ښه د عمل لټون په مخه جاری اوساتی - دغه عمل هم ابدی دے او هم نۀ ختمیدونکے دے - دا کله په کاڼی کښې څرګند شی او د صورت ګر او مجسمه ساز د عمل شاهکارونه شی - کله د معمار د فکر نتیجه شی او تاج محل ورنه ساز شی - یو مصور او نقاش ئې د هاغه لافانی او لا ثانی عکسونو باعث کوی چې د بهزاد او پکاسو د فن معراج شی - هم دغسې دا چې د موسیقار په فن را څرګند شی نو د خسرو او تان سین نغمې ورنه جوړې شی - یا بیا د آدم خان د رباب ټنګ شی چې مولانا روم ئې هم په دروېشی رقص په دې وینا مجبوره کړے دے چې

خشک تار و خشک چوب و خشک پوست
از کجا می آید این آواز دوست



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

دا د شاعر د ژبې نُدرت او د فکرونو هاغه اظهار دے چې ښائستونه شیندی ، مینه پېرزو کوی او جلال او جمال په ګوته کوی -

ژوند ټول د عشق نه مستعار دے -که عشق نۀ وے د ژوندون حرارت به نۀ وو -د دې بې قرارۍ به نۀ وې -طلب او ارزوګانې به نۀ وې -خواهشونه او ارمانونه به مفقود وو -او چې دا نۀ وے نو انسان به د حیوانیت د درجې نه د انسانیت پاټکو ته پل نۀ وے را پورته کړے -د انسان نه به اشرف المخلوقات نۀ وے جوړ شوې -د رحمان بابا په شان چې

دا جهان دے خدائے له عشقه پیدا کړے
محبت دے د تمام جهان ابا

چې عشق نۀ وے نو د تخیل قوت به بې کاره وے ، تکلونه او ارزوګانې به مفقود وې -او چې دا نۀ وے نو هاغه تصور چې د انسان لاشعور او تحت الشعور دواړو خپل کړی دی ، او دے ورته د ادم وړمبے ټاټوبے وائی -د هغې د بیا موندلو او خپل ځان پکښې د دوباره اباډولو او میشته کولو د قابل ګرځولو ارمان به کله یو انسان هم نۀ وے کړے -نۀ به ئې د خپل فردوس ګم ګشته تصور وے -او نۀ به د شرق او غرب مصور ، فنکار او تخلیق کار چرې د


پښتو ډاټ نېټ pukhto.net

دې په ارزو کښې د خپل دې ګرد و پېش ، د استوګن ځائے د تزئين و ارائش هڅه کؤلے - او خيالونو به ئې د دلبر او دلربا د حرم طوافونه هم نۀ کؤلے -

د فنکارانو او تخليق کارانو په دې جمِ غفير کښې يوه ډله داسې هم ده چې هغه د نطق و بيان د تورو ټکو د معمارانو ده -د ژبې او الفاظو په ذريعه انځور ګرى کوى -د دوئ د فکر او د نظر ښکلاګانې د نور او سرور ترجمانى هم وى او د غم او اندوه انځورونه هم سازوى -دا د انسانى تمدن او د روان کاروان حدى خوانان په هر کاروان کښې په هر دور کښې موجود وى -دا د هر تمدن ، د هرې ژبې ترجمان وى -دوئ په خپل خپل دور او خپله خپله معاشره کښې ټول په خپله خپله ژبه حدى خوانى کوى -د خپل باغ او خپل چمن زار دغه ټول بلبلان په خپل خپل رنګ کښې نوا پېرا وى -دوئ خپل وګړى ته د هغوئ د ارمانونو ، د هغوئ د خوبونو ، د هغوئ د ارزوګانو ، د هغوئ د غمونو او اندېښنو او د هغوئ د دردونو سرود ګر هم وى او نوحه خوانى ئې هم کوى -دا په دې چې دوئ د خپلې معاشرې د انسانى فطرت او مزاج نه خبر وى او د دې سره اشنا وى -هغه په دې هم پوهه وى چې :


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

هغه نغمې مو د بل هر څه نه وی زیاتې خوږې
چې د غمونو او دردونو انتها سره وی

دا د هر قوم او هر ملت ، د هرې معاشرې او هر تهذیب او تمدن او د هرې ژبې خاصیت ګڼلے کیږی -د بېلې بېلې معاشرې جدا جدا ژبې په خپل رنګ و آهنګ کښې ښکاریږی -هر شاعر او سخنور د خپل مخصوصو روایاتو او خپلې ژبې د مخصوص زېر و بم د زمزمې د تقاضو په مطابق د خپل فکر و نظر ترجمانی کوی -ځکه ئې انواع و اقسام جدا جدا نوعونه او توپيرونه لری -د شاعر کلام د خپلې ژبې د شعر و سخن په اصنافو رازیږی -هغه هم د دې سره بلد وی -ځکه د هغه فکرونه هم په دغه اصنافو کښې خپل ځان ښکاروی -بیا دغه اصناف چې کله په تقلیدی انداز کښې کومې بلې ژبې ته واوړی نو په خپل مستعار صورت کښې په خپل خاص رنګ کښې په هاغه ژبه کښې هم کور اوکړی او وده اوموموی- دا لکه د یو قلمی ګل بوټی په رنګ په خپل نوی ماحول کښې ځان له نوے مقام پیدا کړی -

د شعر و شاعرۍ په صورت کښې د دنیا په مخ هرې ژبې د نورو ژبو نه ډېر اصناف اخیستی او خپل کړی دی -د شرق او غرب بیلتون د شعر په دنیا کښې حرام دے -دا بې ادبی ده -ادب



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

په هر رنګ او هر انداز کښې چې وی ، دا که د هرې ژبې وی په ادب حساب وی –دا د انسان د فکر و نظر د ښکلا باعث کیږی – د چین ، جاپان وی که د یورپ ، امریکې ، د هند و ایران وی او که د شرقِ اوسط یا توران ، هره رنګینی او ښکلا چې جاذبِ نظر وی نو عالمګیره وی –دا د تعمیری ښائستونو او ښکلا ګانو ترجمانه وی –د دې نه استفاده کول د هر انسان او هر وګړی حق دے –دا د ام الکتاب درس دے –دا ئې تعلیم دے او دا ئې زده کړه ده –په دې هیڅ پابندی نشته –او نۀ وربانډې څه قدغن لګېدے شی – چې داسې شوه او که د هرې ژبې کلام د شعور د ودې او د تمدن و ارتقاء د لارو رهنمائی کولے شی - نو د دې نه بیا د استفادې کولو نه ډډه کول که کفرانِ نعمت نۀ وی نو نور به څه وی –

پښتو ادب هم لکه د دنیا د نورو مشرقی او ترقی یافته ژبو په حقله خپل اوږد او عمیق تاریخ لری –په دې چې هر څو که د دې خپل مخصوص اصناف ښه بېسیاره وو او د زمانو زمانو راسې پکښې د دې ژبې شاعر طبع ازمائی کوله ولې کله چې د عرب و عجم تمدنی بهیر دې پله راسم شو او پښتونخوا ته ئې مخه اوکړه نو د ځان سره ئې د شعر و سخن ځینې اصناف هم زمونږ د ادب دنیا ته رااورسؤل –او د غزل ، رباعی او د مثنوی ، مسدس ،



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

مخمس ، او ترکیب بند وغیره په صورت کښې ئې ډېر ادبی او شعری اصناف متعارف کړل –او دغه ټول ئې په پښتو شعر و ادب کښې داسې راګډ کړل چې د دې ژبې د ادبی مزاج سره ګټه خته شول – بیا داسې یو وخت راغے چې زمونږ د ژبې هغه خپل اصناف په اولسی شاعرۍ یاد شول او دغه مستعار او تقلیدی اصناف زمونږ د دې مورنۍ ژبې کتابی ادب شو- دا د ارزانی، مرزا ، خوشحال او رحمان د فن ښکلا او زینت شول- بیا مونږه هم د وخت په تېریدو ددې نه هم ځان نا بلده کړو چې دغه تقلیدی شاعری مونږه هیڅ کله هم پردۍ ، نا جائزه او نا روا نۀ ده بللی-

اوس نو په دی تېره شلمه صدۍ او په دی روانه یو یشتمه صدۍ عیسوی کښې چې د دنیا تناؤنه ډېر رالنډ شوی دی- قومونه او تهذیبونه یو تر بله راجُختیږی- د یو بل د فنونو او افکارو د ببلې ببلې دنیا نه هر څوک خبریږی نو د ادب په دنیا کښې هم د انقلابی تبدیلو د واقع کېدو امکان جوت لېدے کیږی- دغسې د شرق او غرب د شعری اصنافو هرې ترقی یافته او ترقی پذیرې ژبې ته په خپل خپل انداز کښې د خپلولو یو نوی دور هم شروع شوی دے -ځکه خو په دې کښې فکر او کنجکاوې کول څه عیب نۀ دے- دا په ژبه کښې د شعر و سخن د مېدان د وسعت



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

پذیرۍ سبب کېدے شی- که چرې په تېرو وختونو کښې مونږه نور اصناف د عرب او عجم د شاعرۍ نه خپل کړی دی او ورته مو د خپل کتابی ادب تقدس وربخښلے دے نو په داسې نورو نوؤ او بهرنی اصنافو کښې کوم چې یاد شرقی ژبو لکه د جاپانۍ هائیکو یا د چین مناظر نګارۍ دی دا دې ولې خپلې نۀ کړې شی- د ژبې توان او استطاعت په نوی انداز کښې د تجربو او نورو اصنافو د خپلولو په هره زمانه کښې ضرورت لری- د دې د پاره دا ضروری ده چې ازاد ، معرا او لېریکل اصناف دی که سانیټ یا ډرجونه دی یا بیا که ټرائیلټونه دی ، دا که انګریزی اصناف دی او که فرانسیسی ، اطالوی یا یونانی دی دغه ټول اصناف باید چې په خپل خپل رنګ کښې زمونږ دې مورنۍ ژبی ته راواړولې شی او د دې زینت شی-

شاعر ادیب او سخن ساز پروفېسر نقیب احمد جان چې د دریوالہ په نوم کوم نوے صنف د شعر و ادب مېدان ته رامخکښې کړے دے او خپل ځان ئې په خپله د دغې لارې لاروے کړے دے زۀ په خپله د شاعرۍ د لویدیزې دنیا د دغې صنف چرې په خوا هم نۀ یم تېر شوے- د مغربی دنیا ډېر قسمه رنګینۍ چې د دوئ په شعر و ادب کښې مې لیدلی دی ولې نۀ مې د دې ذکر اورېدلے وو


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

نۀ مې کله داسې کلام د مخې تېر شوے وو- د خپلې محدودې مطالعې د مخه چې دا د لويديزې نړۍ د يو مقتدر تهذيب او تمدن په يو مقتدره ژبه فرانسيسۍ کښې لاد دې قسمه کومه سخنوری يا مخصوصه شاعری کولې شی – او هر کله چې د مغربی ژبو د شعر وسخن اساس د موسيقۍ په آهنګونو او د دې په زېر وبم پورې تړلے دے ځکه نودا بالعموم د قافيې او رديف د هاغې قېد وبند نه ازاده وی کومه چې مونږ په خپله شاعرۍ کښې يعنی په غزل ، رباعۍ او مثنوۍ وغيره کښې وينو-

په پښتو شعر کښې دا نوے انداز خپلول خپلې موسيقۍ له هم د ودې ورکولو او د دې په صوت و آهنګ کښې د تنوع او خوند رنګ سېوا کولو باعث کېدے شی- هسې خو موسيقی يو نا پاره سمندر دے- دا داسې بحر دے چې سر او سرحد ئې نۀ دے معلوم د دې د پاره دا ضروری ده چې مونږ دې هم خپله کشتۍ د دغې بحر وسعتونو ته ورتېله کړو او د دې سره ئې اشنا کړو- د ژوند د سمندر په دې بهير کښې د روز افزون پر مخ تګ د عمل نه خپل ځان او خپله ژبه محرومه نۀ کړو –که فرانسيسی محقق ډارمستېټر په نولسمه صدۍ عيسوۍ کښې د پښتو شعرونو (هارو بهار) خپلې ژبې او خپل اولس ته سوغات کولې شو نو


پښتو ډاټ نېټ Pukhto.net

زمونږ دا پروفېسر نقیب احمد جان دې ولې یو مقبول فرانسیسی صنف پښتو او پښتونخوا ته مُنجره نۀ کړی-

زۀ ښاغلی پروفېسر ته د هغه په دې ناویاته شکل کښې د وړاندې تګ او په دې مېدان کښې د هرې ممکنې کامیابۍ د پاره دُعا کوم- زما په نظر کښې د شعر د اباسین بهیر د ژبې و تمدن د ښېرازۍ دپاره ډېر ضروری دے باید چې دا بهیر همېش د پاره دوام اولری- وما توفیقی الابالله-

پروفېسر محمد نواز طائر
۲۷ستمبر ۲۰۱۱ع

# یادانښت

بدر الحکیم حکیم زے

په ازل شوی د برخو جواری ، کومه چې د رحمان بابا په اند چا بائیللې چا ګټلې ، بائیلونکے او ګټونکے ئې نن له ورایه پېژندل


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

کیږی - د بر مل او لر مل کار او کردار نارې وهی چې څوک له ځایه باز شهن څوک څوړې څاړې - شکر دے ما په دې انګېرنه کښې هیڅ تېر وتنه او نهٔ کړه چې نقیب احمد جان صېب د برې بر خه نغښتی راوړی ده - له ازله ئې په ژبه کښې هاغه خواږه راوړی دی چې حلوایانو سره نشته داسې قند -- په خپل خواخوږی او مینه وال زړهٔ کښې له پښتو او پښتنو سره دومره نېک خواهی لری چې په ډاډه ورته وئیلے شو چې مبارک شه بادشاهی لرې په زړهٔ کښې - ددې زلمی په هنری ګوتو کښې هاغه توند ، تاند او مړنے لیکانړے دے چې ډېر زر به د دې وېنا جوګه شی چې په پښتو ژبه مې حق دے بې حسابه - بیا ددهٔ خوارې او لویې به سړے څنګه و نهٔ منی چې په یو وخت زېږؤنو ، څېړنو، او خپرؤنو ته ملا تړلے ولاړ دے - که د پښتو د دُرخو ادم خان دے نو د اُردو دشیرینۍ فرهاد هم دے - د حمزه خبره کمال هم کوی او بې کمالۍ نه ځان هم ساتی - کله یې د پښتو په ګلدرو او سردرو کښې ددې سندرو انګۍ تاویږی چې (تهٔ د حسن انتها یې زهٔ د مینې) ، او کله د اردو ادب ګلبڼ ته د (احساس) شمال رابولی - د نورو یو شمېر شاعرانو لیکنې هم ددهٔ په بدرګه د چاپ تر پړاوه تېرې شوی او لاتېرېږی - له ادب سره دې ربښتونی او



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

غښتلي تړاؤ او په دې لړ کښې کوونکي کړاؤ ته چې يې ګورم نو ژبه مې له واره په دې ټکو خوځيږي:

چې دستار تړي هزار دي        د دستار سړي په شمار دي

دا اوس يې د خپلې خياولې درخانۍ ژبې ښائسته غونډې زنې له يو نوے خال له پېرسه راؤړ—(ټرائيولټ) ---- د فرانسوي ادب لپاره د وياړ ځائے دے چې يو توکے يې د پښتو د ويښتو ول شو –څوک خوشحاليږي او که خفه کيږي خو جان صېب يې په ټرائيولټ نهٔ يادوي ، هغه ورته (دربواله) وايي- د جان صېب دا دريځ د کړلو نهٔ دے ، چې دا فرانس نهٔ دے ، پښتونخوا ده -

دا کار څه نوے نهٔ دے شوے –پښتو د مخه له ځينو نورو ادبي توکو ترڅنګه انشائيه په تکل ، او قطعه په څلوريزه نومؤلې ده –کېدے شي په داسې کؤلو له دې توکي سره د پښتنو شاعرانو د زړهٔ او اروا اړيکې ډېرې پرله پورې شي –د پام وړ ده چې جان صېب د دربواله په نوم دغه نظم راخپل کړے دے –له ټرائيولټ نه يې په دربواله اړؤلے دے –خو ټاکلے جوړښت يې ورله په ځائے ساتلے دے–هم په هغه اته کړيزه زنځيرۀ کښې يې پاللے دے –فرانسوي رغؤنه يې ورله غوره ګڼلې ده –د وخت د غوښتنې سره سم که څوک يې په ځاندريز بدلون خوښمن شي نو هيڅ بده خبره به نهٔ وي –لکه مونږه


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

چې جاپانۍ هائیکو د پښتو په ګډوزی مېچ کړه نو د خوږوالی اوازې یې له امو تر اباسینه خوږې شوې –که دې ته ځیر شو چې د پښتو ادب چمن خو له پخوا نه په ډېرو ګلونو وږمن او شتمن دے نو جان صېب درېواله ولې راوړه ؟ زما په فکر له فرانسوی ادب څخه یې د دغه نظم د راخیستنې یوازینۍ مخه او موخه د خپل ادب لاپراختیا او پرمختیا ده ، د خپل ادب په ځان دریزه پنګه کښې زیاتون دے – له توکیز پلوه د پښتو ادب پاینښت او نوښت دے –جان صېب سپین زړے زلمے دے چې د نړۍ تول وکړی د یو تبر غړي مني –په دې له چا کرکه نۀ کوی چې د دې کلي نۀ دے د هاغه کلي دے –کشمالی که د هر چا په بلۍ ولاړ وي ، په وږمو یې د دۀ اروا قلارے مومي – بل د وړۍ دا نۀ ګوري چې د کومې ګډې ده ، شړۍ ته یې ګوری چې توده او پسته ده او که څنګه --- یو ادبی توکے که د هرې ژبې وي ، چې د پښتو لپاره ګټوَر وي نو جان صېب به ورته د مینې غېږ خامخا ورکوي –

ډېر د ښېګړې کار یې کړے دے –هم داسې کسان تاریخ د سرلاري په نامه ستايي –د بېلګې په توګه که ماسټر عبدالکریم تکل ، ایوب صابر ازاد نظم یا میا حسیب ګل ناول پښتو ته راوړے نۀ وے، نو نن به د پښتو ادب ځولۍ که تشباښې نۀ وه نو نیمګړی به خامخا وه –


پښتو ډاټ نټ
Pukhto.net

راغلو دې تکي له چې په درېواله یې نومېدل سم دي که نا سم ؟ نهٔ پوهېږم چې د سم او نا سم تاکلو لپاره کچ او مېچ څه کېږدو -مونږ خو د منلي ادبي توکي غزل د معنې شخړه لاتر اوسه سمه سپینه کړې نهٔ ده -د لوبې ، تېپې یا بګټنې له نومونو د دغو ادبي توکو جاج اخیستل یا شالید پېژندل اوس هم زمونږ له وسه نهٔ دي -خو له پخوا نه دغه نومونه پکار شوي دي ، او مونږ سم منلي دي -بیا درېواله خو ډېر روڼ او ډاګیز تکے دے -نېغ په نېغه د ترائیولټ ژباړه ده -چې د دې نظم د جوړښت ښکارندویې کوي -د جاج له مخه پېژندلے او د وینا له مخه پوست او ښکلے دے ، ځکه زما خوښ دے -ژېپوهان که ورته له دې نه هم زیات غوره نوم ینښودل وغواړي نو باور لرم چې جان صېب به ورته د خوشحالۍ نه لاسونه وپړقوي -

د هرې درېوالې په سر لیکلے سرخط دا راز بر څېره کوي چې نومورې لیکوال پکښې ګڼ شمېر مضمونونه خوندي کړي دي -هم دغه د دغه نظم پلارنے حق دے -جان صېب دا ښېګړه اوکړه چې په خپله مقاله کښې یې د دې نظم په حقله پراخه او ژور رڼاوے وکړو -که چرې داسې یې نهٔ وے کړے نو له ما غوندې لږ لوستي لپاره به پوهېدل پرې ډېره پېچلې ستونزه وه -زما په فکر د څه لپاره چې ښاغلے لیکوال تر ټولو زیات د منني او شا ټپوڼې حق لري ، هغه یې


پښتو ډاټ نټ
Pukhto.net

د دربوالي په ورمبی وار د پښتو ادب ته را پېژندنه ده -دا داسې پېرزوینه ده چې د پښتو ادب په تاریخ کښې به تل په ښو ټکو یاده او زباده شي -

مهربان خدائے دې جان صیب له بدو سترګو وساتي! د هغه مړنے لیکاڼے دې هم دغه شان ګړندے وساتي! اے خدایه قبوله کړه دعا زما!

بدر الحکیم حکیم زے
نیټه: ۳۰-۰۹-۲۰۱۱ع



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

یو بریښ د سپوږمۍ شاته په اسمان کښې پرقېدو

# Triolet ، دربواله ، تریکۍ که دربکۍ

پروفیسر شیر زمان سیماب

د شلمې صدۍ د نمر د لګېدو سره د پښتو ادبیاتو بخت رابېدار شو او خپلو متقد مینو چې کوم پاخهٔ بنیادونه پښتو ادب ته ورکړې وو، متاخرینو وربانديې د نوی محلونو د تعمیر ردو وهلو ته متې رااونغښتلې – په خصوصی توګه نثری اصناف ناول ډرامه او افسانه د پوهه قلمکارو د قلم په څوکه سینګار شو-

د پښتو د ارتقاء د تسلسل دغه مزل لاتردې دمه روان دے په خپل آب او تاب سره د نړیوال ادب په مینځ کښې ځان د اودرېدو جوګه ګڼي او حقیقت هم دغسې دے چې د پښتو ادب خپل اصناف هم په نړیوال ادب کښې خپله ځانګړی پیژندګلو لری- په خصوصی توګه هغه منظوم اولسی اصناف چې د ملی اوزانو په



پښتو ډاټ نېټ Pukhto.net

ترتيب او ترکيب موزون شوی وی په نړيوال کچ د ادبياتو ښې نمونې دی.

ولې داسې هم نهٔ ده چې د پښتو مور غېږ صرف د خپلو بچو پالنه ، روزنه او خصمانه کوی بلکې د پښتو مور په غېږ کښې د خپلو نه علاوه د نورو بچی لا په مينه قدرولې شوی او نازولې شوې دی. (دلته زهٔ په زير نظر کتاب د ښاغلی نقيب احمد جان د ديباچې د دې خبرې سره اختلاف ښکاره کوم چې ګنې يوازې هائيکو پښتو ادبياتو ته راغلې ده او د قبوليت سند ئې تر لاسه کړے دے په دې چې د غزل په موجودګئ کښې د هائيکو مقبوليت يا قبوليت ډېر کم څه چې لا د نشت برابر دے)

د نورو متعارف شوی اصنافو نه پرته دا وخت زمونږ ګران ملګری نقيب احمد جان د مغربی ادب نه يو منظوم صنف را اوچت کړے دے. او په پښتو کښې ئې پکښې تجربې کړې دی. دغه نظم چې په انګرېزئ کښې **Triolet** نومېږی په ديارلسمه صدئ عيسوئ کښې په فرانسيسی ادبياتو کښې خپل قدامت ثابتوی-

**Triolet** دربوالهٔ - تريکئ که دربکئ: تردې دمه چې پښتو ادب ته څومره اصناف هم را اوړېدلې دی نوم ئې په خپل ځائے پاتې شوے دے- لکه غزل، رباعی، قصيده، مرثيه ،


پښتو ډاټ نېټ Pukhto.net

هائیکو ، سانیټ، ازاد نظم او نثری اصنافو کښې ناول، ډرامه او افسانه – دا نومونه د دې اصنافو عربی انګرېزی فارسی یا اردو کښې مستعمل دی- د پښتو د خپلو اصنافو نه علاوه نور ادبی اصناف هم په دغه نومونو پېژندلے شوې دی-

ښاغلی نقیب احمد جان چې دا کوم صنف د انګرېزۍ ادب نه راړولے او زېلی ئې په فرانسیسی ادب کښې ښخې دی ورته د پښتون نوم ورکولو هڅه هم کړې ده- درې واله نوم ئې ورته د خپلې ذهنی اختراع نه راځنځولے دے چې په دغه لړ کښې زۀ هم معروضات وړاندې کول غواړم- کوم چې به د ښاغلی سره اختلاف نۀ بلکې د خپل ادراک په اړوند اظهار وی-

د فرانسیسی نظم **Triolet** نوم چې موصوف ئې **Little Three** معنی کوی او په اردو کښې ئې ترائیلے نامه هم راوړی- چې حواله ئې د دوئ په تحقیقی دیباچه کښې موجوده ده- دوۀ څیزونه مونږ ته د خپلې معنې نه پلۀ پورته کوی- او هغه دی درې او وړوکے ، وړوکوالے یا اختصار -- نو که په دغه حواله د موصوف له خوا د کېښودې شوی نوم جاج واخستے شی نو درې **three** خپله معنی راڅرګندوی ولې د وړوکوالی یا اختصار هغه معنی ئې د مار خپه کېږی- باید چې په پښتو کښې داسې ټکے



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

ولټولے شی چې لکه د انګریزۍ د **Triolet**د دغه دواړو معنو جامعیت ولری او کوم چې زمونږ د روزمرې مطابق او مستعمل وی- په دې لحاظ درې واله د خپل ترکیب په حواله د ستو نزو سره مخ کېږی ځکه چې په دې ترکیب کښې د واله ټکے راوړل د اردو ترکیب ته نزدې کېږی البته وال په پښتو کښې مستعمل دے- لکه ټانګیوال، اتی وال وغیره ولې دلته که درې وال شی نو دغه ترتیب به خپل فصاحت او بلاغت د یو خپل سرتېری بریده سره مخ کړی-

دلته زۀ د نوم په لړ کښې خپلې مدعا پله راځم وړمبۍ خو دا رائې لرم چې خپل نوم ئې لکه د نورو اصنافو په ځائے پرېښودل غوره ګڼم ولې که بیا هم ورته ګران ملګرے چې په اول ځل دا صنف په پښتو کښې متعارف کوی د خپل پښتنې نوم د ښکلا ورکولو شوق راخستے وی- نو زما په خیال تریکۍ ئې ښه نامه کېدے شی یا دریکۍ هم موزونیت لری- دلته درېکا هم نوم کېدے شی خو د وړوکوالی یا اختصار طرف ته د هغه اشارې پکښې د انتشار د ښکار کېدو امکان پیدا کېږی- او بله دا چې محترم پروفېسر اباسین یوسفزی صېب په خپل کتاب (الوت) کښې دغه نامه د درېو شعرونو په ټوټه باندې ایښې ده-


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

د مضامینو په سلسله کښې ښاغلی نقیب احمد جان لیکلی دي چې ما کوشش کړے دے چې دا درېوالۍ د مضامینو په لحاظ وسیع شي او هره موضوع او مضمون دې پکښې ځائے شي- نو په دغه اعتبار د پښتو خپل اصناف هم (د مخصوص اصنافو نه علاوه) خوارۀ وارۀ مضامین لري- او داسې چې کوم د نورو ژبو نه راغلي دي نو هم د مضامینو د رنګارنګۍ اوبو قلمونۍ په ښکلا ګانو کښې لمبېدلي دي- لکه غزل کښې تصوف، رومان، طبقاتي شعور، ترقي پسندي، قوم پرستي، پندو نصیحت وغیره-

د وزن او بحر په لړ کښې موصوف لیکي چې دا درېواله د وزن بحر په قېد کښې نۀ غورزوم نو د مخصوص وزن لرونکي اصنافو نه سر بېره نزدې نزدې ټول اصناف مختلف وزن او بحر کښې لیکلي شوي دي- د غزل نه ترهائیکو— بلکې د هائیکو هغه خپل وزن خو ورک شو او عام طور په مختلف وزن او بحر کښې تخلیق کېږي- البته د عنوان خبره ئې درُسته ده په دې چې دا نظم دے نو باید چې عنوان ولري-

**دا درې والې او شعریت**: د دې بحث نه پس مونږ له دا کتل پکار دي چې دا صنف د شعري اهنګ غورزنګ لري کوم چې د دې د بقا ضمانت هم ګرځېدے شي، په دې لړ کښې د


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

ښاغلی نقيب احمد جان د دې درېوالو د لوستو نه دا اندازه لګول مونږ د دې مشکل سره نۀ مخ کوی چې ګنې دا صنف به د خپل شعری اهنګ له مخه د کوم تردد سره مخ شی- بلکې د تواتر يا تسلسل دغه مصرعې کۀ د يو شاعر د شاعرانه زيار د آهنګونو په ګنګا کښې اولمبولې شی نو په سماعت به ئې د شعری تقدس اثر ضرور کېږی- ولې د دې نه پرته د اتۀ مصرعو دا نظم په خپل ځان کښې بيا هم شعری صلاحيت لری- خو چونکې تر دې لاد نورو ليکوالو له خوا تجربې نۀ دی رامخې ته شوې نو په دې اکتفا کوؤ چې دا لږ زيار د شعريت د معيار ښکلاګانو پله ګړندی ګامونه دی-

**د دې درې والو مضامين:** د مضامينو په لحاظ ښاغلی خپل کوشش کړے دے- د حمد و نعت نه را واخله د ژوند د نورو مسائلو پورې تړل مضامين ئې په دې نو وارد صنف کښې راځائے کړې دی- د پند و نصيحت او اخلاقياتو په حواله ئې (استاد، مور او پلار، د راز خبره، د پښتون د بد به) وغېره درېوالې د تخليق د دشتو نه راتېرې کړې دی- او د رومان په ګبين کښې د لږلو دې درېوالو نه ئې د مينې محبت د واقعاتو او کېفياتو حظ پورته کولے شئ- (خوارۀ وختونه، د ژوند قيصه، دوۀ سترګې،



پښتو ډاټ نېټ Pukhto.net

جانان، ښکلا) وغېره- ښاغلی اتل افغان ته په سهره ليکلو ئې د سهرې مضمون هم په درېواله پېرزو کړے دے- د طبقاتی شعور او ترقی پسند فکر په حواله ئې (مزدور) او (له ازله) درې والې د مزاحمتی فکر غمازی کوی- (امن) او (د امن سپين سبا) ئې د نن د هر انسان درد په زړۀ پورې نيولے او درېوالې ته سپارلے دے- (تباهی) نومې درېواله کښې ئې د سائنس د اهميت په ګوته کول او د هغې د غلط استعمال غندنه ده- چې په نړۍ کښې د سائنس د اهميت څنې انکار هم نۀ شی کېدے او ښاغلے ځان د جديدې دنيا يو اهم غړے يا وګړے ګڼی او د سائنس د اهميت نه انکار نۀ کوی- ولې د غلطو ذهنونو ، غلطو رويو او غلط استعمال ئې د قومونو ژوند د تباهۍ سره مخ کړے دے-

**اختتام**: غرض دا چې زمونږ ګران ملګرے نقيب احمد جان چې د پښتو ژبې او ادب يو بې غرضه مئين دے- او ددې قافلې يو نۀ ستړے کېدونکے لاروے دے- وخت په وخت د دوئ تخليقی زيارونه په اشاعتی ډول مخې ته راځی کومونه چې د ادب د پرمختګ په لړ کښې د دوئ د تګ ودۀ څرګندونه کېږی- دا زيار چې د **Triolet** نمونه ئې پښتو ته هم راپېرزو کړه يقيناً د ستائينې



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

او داد کار ئې اوکړو- او طمع لرم چې پښتانۀ لیکوال او پښتون قام به ئې د دې کار تل عمری ستائینه کوی-

زۀ خپله په ذاتی توګه د دوئ د دې ادبی کار او زیار قدر کؤم او په را روانو وختونو کښې د دوئ نه د داسې مثبت سرګرمو هیلې لرم-

شېر زمان سیماب
وړمبے اکتوبر ۲۰۱۱ع

# جان په ما ګران

اتل افغان

که زۀ دا اووایم چې نقیب احمد جان صېب ځان له یوه اداره ده ، نو بده به نۀ وی ولې چې څومره کار یوه اداره د ډېرو کسانو په


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

شتون کښې په ډېر وخت کښې نۀ شی کولے ، جان صیب په لږ وخت کښې په یو سر اوکړو او لائې کوی- وړمبے خو ئې د ایف اے ، ایف ایس سی په انګرېزۍ کورس کښې د شاملو نظمونو اُردو منظوم ژباړه د ( ) په نوم اوکړه (چاپ ۲۰۰۳)- وروستو ئې د پښتو شاعرۍ کتاب (تۀ د حسن انتها ئې زۀ د مینې) چاپ کړو (چاپ ۲۰۰۷ء) - بیا ئې د اردو شاعرۍ کتاب د (احساس) په نوم چاپ کړو (چاپ ۲۰۱۰) -د ایم فل اردو مقاله ئې د ( ) په نامه اولیکله -ایم اے پښتو کښې ګولډ مېډلسټ شو -د ډېرو اُردو نظمونو پښتو منظومه ژباړه ئې کړې ده چې نا چاپه نسخه ئې د (کله نا کله مې په زړۀ کښې هسې خیال راشی) په نامه سنبال ده -د پښتو په یو ناول (قاتله ګټه) باندې هم کار کوی -د کمپوزنګ او پبلشنګ کار هم کوی او هر کال د ملاکنډ پښتو ادبی ایوارډ په نامه یو ایوارډ هم اوباسی -بل دا چې اوس ئې ټرائیولټ چې د فرانسیسۍ ژبې شعری صنف دے پښتو ژبې له د درېوالې په نوم راوړو -

ښاغلے جان صیب د ډېرو ښو ځانګړتیاؤ خاوند دے -په لږ وخت کښې ئې ډېر زیات لیکل اوکړل ، او لوستونکو ته د پام وړ


پښتو
ډاټ نېټ
Pukhto.net

اوګرځېدو – د نیک بختۍ نه د درس و تدریس سره هم اړیکی لری –ځکه ترې دا هیله لرو چې نوی ځوانان او زلمی به وروزی –

جان صیب د شعر سره سره نثر هم دومره ښائسته او په زړه پورې لیکی چې بنده ئې لوستو ته خوشحالیږی – اردو او پښتو دواړه لیکی او ښه ئې لیکی - د نیکپی خېل کبل (کبل پښتو ادبی تړون ) د ادبی هلو ځلو روحِ روان دے –ډېر ښه منتظم دے –په شاعرانو ادیبانو مئین دے –ډېر ښه انسان او ښه پښتون مسلمان دے –

د جان صیب غوندې لیکوال یوې ژبې ته نصیب کېدل ډېره د خوشحالۍ خبره ګڼلے شی ، ولې چې د نورو ژبو منلے شوی لیکونه خپلې ژبې ته راوړی – او د خپلې ژبې لمن پرې ډکوی – او هم داسې د خپل قام احساسات او جذبات نورو قامونو ته د هغوئ په ژبه کښې ور رسوی –

جان صیب که هر څومره ډیر او ښه کار کړے دے خو عمر ئې کم دے زمونږ ورسره نور اُمېدونه تړلی دی زما یقین دے چې جان صیب به خپله ادبی منډه نوره تېزوی- او دې ژبې ته دې پښتون افغان اولس ته به نورې ادبی فن پاری پېرزو کوی-



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

دا اوس چې ئې د درېوالې په نوم کوم نوے صنف د پښتو او پښتنو ادبی کور ته راوړو یقینا چې بې بدله او د ستا ئنې وړ اوګرځېدو او ټرائیولټ (درېواله) ئې دومره خوږ او مؤثر کړو چې هیله ترې کېدے شی چې پښتانه ورته خپله مینه ورکړی- او پښتون ئې کړی جان صېب درېواله په پښتنی خوند او رنګ لیکلی ده او د پښتو شاعرۍ خوارۀ ئې ورکړی زما یقین دے چې پښتو او پښتانۀ به ئې قبوله کړی او د درېوالې د ننګ پټکے به د جان صېب په سر وتړی-

په ډیر درناوی او مینه
اتل افغان
(فیض خانه) سوات


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# حمد

دغه ستا کور دے چې قبله ده زما
دغه ستا نور چې مې پرې زړۀ روښانه
ده ستا نامه چې وظیفه ده زما
دغه ستا کور دے چې قبله ده زما
دریاب د رحم دې اسره ده زما
ستا د اُلفته مې دنیا ودانه
دغه ستا کور دے چې قبله ده زما
دغه ستا نور چې مې پرې زړۀ روښانه



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# نعت

جامونه د کوثر دی که د خدائے د معرفت
زما په اوچو شونډو دی پېرزو ستا د کرمه
ساتل دي جهانونه په سینه کښې د رحمت
جامونه د کوثر دی که د خدائے د معرفت
تل وړاندي له هر غمه دي دے غم د خپل امت
دنیا او عقبی دواړه مو ښائسته دی ستا له دمه
جامونه د کوثر دی که د خدائے د معرفت
زما په اوچو شونډو دی پېرزو ستا د کرمه

# قرآن

کلام دے د خالق ځکه دے احسن الکلام
هر شے د کائنات دے دائره کښې د قرآن
انسان لره رهبر دے د ژوندون په هر مقام
کلام دے د خالق ځکه دے احسن الکلام
ازل ابد ئې واره احاطه کښې د پیغام
د علم لوئے دریاب هره جمله کښې د قرآن
کلام دے د خالق ځکه دے احسن الکلام
هر شے د کائناتو دائره کښې د قرآن


پښتو ډاټ نېټ
pukhto.net

# بله ډیوه

نن زما د زړۀ په اور
**بله ډیوه بله شوه**
غوا ړمه چې شي ټکور
نن زما د زړۀ په اور
اومومي سرور او سور
بیا هر یو زېلې زړۀ
نن زما د زړۀ په اور
بله ډیوه بله شوه



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# شمع

ما ته دې د مخ شمع روښانه که
ورکې مې تیارې کړه دوجدانه
مست مې که نشه که ما بې ځانه که
ماته دې د مخ شمع روښانه که
لاره د ژوندون راته اسانه که
سوزدې کړه عطا راته بې شانه
ما ته دې د مخ شمع روښانه که
ورکې مې تیارې کړه د وجدانه



پښتو
pukhto.net

# دربواله

ما نهٔ وئیل د ځانه راته اوشوه اشاره
پکار ده چې اوس اوکړمه د دې زهٔ احترام
کؤله امتحان لپاره ما مطالعه
ما نهٔ وئیل د ځانه راته اوشوه اشاره
دا نظم (ټرائیولټ) ئې انګریزئ کښې ده نامه
ته ئې اولیکه پښتو کښې (دربواله) ئې کېږده نام
ما نهٔ وئیل د ځانه راته اوشوه اشاره
پکار ده چې اوس اوکړمه د دې زهٔ احترام



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# زړګیه......

زړګیــه چــې بنــدی دې کړمــه زۀ د رنــګ او نــور
تــر مرګــه بــه زۀ ســتا یمــه دا ســتا ښائســته خطــا
هــم تــوان دې رالــه راکــړو هــم پــه مینــه دې غــرور
زړګیــه چــې بنــدی دې کړمــه زۀ د رنــګ او نــور
پــه یــو ســاعت مــې بیــا مونــدو د ژونــد همــه ســرور
یــو تــورې د الفــت مــې د همــه ژونــد مــدعا
زړګیــه چــې بنــدی دې کړمــه زۀ د رنــګ او نــور
تــر مرګــه بــه زۀ ســتا یمــه دا ســتا ښائســته خطــا


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# پخپله

پخپله هلاکو ځان ته چنګېز شومه هېهات
زۀ خپلې خپې وهمه هسې ویمه چې دښمن
کلتور مې خپل پرېښلے هم مې پرېښې روایات
پخپله هلاکو ځان ته چنګېز شومه هېهات
نۀ کور مې اوس په امن نۀ په امن مې جمات
د خپله لاسه وران مې کړو پخپله خپل چمن
پخپله هلاکو ځان ته چنګېز شومه هېهات
زۀ خپلې خپې وهمه هسې ویمه چې دښمن



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# نـهٔ لاس مې وو ترلی

نـهٔ لاس مـې وو ترلـی نـهٔ مـې خپـو تـه وې بېـړی
جــذبې مـــې دل کــؤلې د زيــاتی د ژرنــدې پــل
بــې شــمېره يرغلونــه وو پــه مــا د بــې وســی
نـهٔ لاس مـې وو ترلـی نـهٔ مـې خپـو تـه وې بېـړی
چــاپېره د وجــوده مـــې حصــار د بــې ننګــی
حېرانــه پرېشــانه داســې مـــا ورتــه کتــل
نـهٔ لاس مـې وو ترلـی نـهٔ مـې خپـو تـه وې بېـړی
جــذبې مـــې دل کــؤلې د زيــاتی د ژرنــدې پــل



پښتو
ډاټ نېټ
Pukhto.net

# یو لِهِر

یو لهر د تود باد د زړهٔ په دشته
راخور دې کړو زما د زړګی سره
ته ئې اے ښاپېرۍ د ګلو لخته
یو لهر د تود باد د زړهٔ په دشته
اوس زهٔ به تېرؤمه هره سخته
نهٔ غږ به کؤم نهٔ به کړم خبره
یو لهر د تود باد د زړهٔ په دشته
راخور دې کړو زما د زړګی سره



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# پېـــغور

غمونــه دې هـــېڅ نــهٔ وو ورتـــه وومـــه لکـــه غـــر
پېغــور دى زهٔ بـــې حــده او بـــې شـــانه کـــرم زهيـــر
زهٔ ښـه ورتـه مضبوط ووم کـه هر څو مې وو پـه سر
غمونــه دې هـــېڅ نــهٔ وو ورتـــه وومـــه لکـــه غـــر
هم زړهٔ مې وو مضبوط ورته مضبوط مې وو ځيګر
خو دا مې نهٔ وو خيال چې بـه تا لـه مې شي ضمير
غمونــه دې هـــېڅ نــهٔ وو ورتـــه وومـــه لکـــه غـــر
پېغــور دې زهٔ بـــې حــده او بـــې شـــا نــه کـــرم زهيـــر



پښتو ورانښټ
Pukhto.net

# خپـــل قـــام

زۀ خپـــل غمونـــه ژاړمـــه زمـــا د زړګـــی ســـره
خفـــه نـــۀ شـــې خـــو تـــا تـــه زۀ لانـــۀ یمـــه اوزګـــار
خـــوږه ئـــې راتـــه تـــۀ راتـــه د ټـــول جهانـــه غـــوره
زۀ خپـــل غمونـــه ژاړمـــه زمـــا د زړګـــی ســـره
زمـــا نـــه چـــې پـــه دې خبـــره نـــۀ شـــې مـــروره
غمونـــه د خپـــل قـــام هـــم دی زمـــا پـــه زړۀ انبـــار
زۀ خپـــل غمونـــه ژاړمـــه زمـــا د زړګـــی ســـره
خفـــه نـــۀ شـــې خـــو تـــا تـــه زۀ لانـــۀ یمـــه اوزګـــار



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# بــــیلتــون

بېلتـــون دې بيـــا زمـــا د زړهٔ تارونـــه ټنګـــوی
نغمـــه د ســـوزه ډکـــه ئـــې او ځـــی د هـــر يـــو تـــاره
پـــه زړهٔ رالـــه نـــا اشـــنا نـــا اشـــنا داغونـــه راکـــوی
بېلتـــون دې بيـــا زمـــا د زړهٔ تارونـــه ټنګـــوی
شپه ټوله مې شوګیر شی کله خوب ته مې پرېږدی
پـــه يـــادو کښـــې دې اوســـمه هـــر وختـــې نـــا قـــراره
بېلتـــون دې بيـــا زمـــا د زړهٔ تارونـــه ټنګـــوی
نغمـــه د ســـوزه ډکـــه ئـــې او ځـــی د هـــر يـــو تـــاره



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# ارام

لېلـــی اونیـــوه لاړلـــه نـــن بیـــا د رقیـــب خـــوا
زمـــا پـــه زړه ئـــې جـــوړ کـــړو د زخمونـــو یـــو قطـــار
ګـــوذار د زړه پـــه ســـر ئـــې رالـــه اوکړلـــو رســـا
لېلـــی اونیـــوه لاړلـــه نـــن بیـــا د رقیـــب خـــوا
چـــې اوســـی د رقیـــب ســـره دا ســـود نـــۀ شـــی زمـــا
ارام مـــې ځکـــه نشـــته ځکـــه نشـــته مـــې قـــرار
لېلـــی اونیـــوه لاړلـــه نـــن بیـــا د رقیـــب خـــوا
زمـــا پـــه زړه ئـــې جـــوړ کـــړو د زخمونـــو یـــو قطـــار



پښتو
ډاټ نېټ
pukhto.net

# یـو ټکــے

یــو ټکـــے د اُلفـــت او د ښـــکلا د رنګینـــو
یــو ټکـــے د وفـــا د زړهٔ لـــه کـــومی او د تلـــه
یو ګـل ښائسـته روښـانه پـه بهیـر کښـې د غنچـو
یــو ټکـــے د اُلفـــت او د ښـــکلا د رنګینـــو
زهٔ غوارمــه چــې اوځلیـږی بیــا ســتا پــه کمځــو
بیا غنې د بېلتون دې شی په زړهٔ کښې مې شیدله
یــو ټکـــے د اُلفـــت او د ښـــکلا د رنګینـــو
یــو ټکـــے د وفـــا د زړهٔ لـــه کـــومی او د تلـــه


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# نخښه

ستا نخښه مې راواخسته د لاسه د رېباره
لړې د اوښکو شولې مې د سترګو راروانې
په فکر شومه تهٔ به اوس په لاره ئې روانه
ستا نخښه مې راواخسته د لاسه د رېباره
ستا سترګې به هم نم وی زړهٔ به ستا وی نا قلاره
بیلتون زمونږ تر مینځه فاصلې کړې مهرویانې
ستا نخښه مې راواخسته د لاسه د رېباره
لړې د اوښکو شولې مې د سترګو راروانې



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# د مینې راز

هـر څـو د مینـې راز کـه مـې پـه زړۀ نـۀ ځائېـدو
خو بیا هم د زړۀ راز مې خپل وئیلے نۀ دے چا تـه
یو درد وو چې پـه رو رو مې سینه کښې ستونېدو
هـر څـو د مینـې راز کـه مـې پـه زړۀ نـۀ ځائېـدو
سـتا یـاد بـه مـې پـه زړۀ لکـه بـاران راورېـدو
د هجـر د تـود بـاده ئـې سـکون راکـؤو مـا تـه
هـر څـو د مینـې راز کـه مـې پـه زړۀ نـۀ ځائېـدو
خو بیا هم د زړۀ راز مې خپل وئیلے نۀ دے چا تـه



پښتو
ډاټ نېټ
Pukhto.net

# غم د خپل اولس

نن بیا مې د اولس په سر پړقیږي توري سپیني
نهٔ خودئې شته په سر نهٔ په وجود زره بکتر
بې وجې بې قصوره ئې هر خوا توئیږي وینې
نن بیا مې د اولس په سر پړقیږي توري سپیني
زهٔ اورمه به څنګه د مستۍ قیصې رنګینې
په غم د خپل اولس کښې مې دے غوڅ د زړګې سر
نن بیا مې د اولس په سر پړقیږي توري سپیني
نهٔ خودئې شته په سر نهٔ په وجود زره بکتر



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# بنــــګُلا

یو برېښ د سپوږمۍ شاته په اسمان کښې ځلېدو
یو پړق د سپوږمۍ وړاندې وو په زمکه زما خوا ته
یو ستورے چې له ورایه غلے غلے پړقیدو
یو برېښ د سپوږمۍ شاته په اسمان کښې ځلېدو
په غېږه کښې مې ګل په نرمو شونډو خندېدو
سپوږمۍ ورته حېرانه وه هم ستوری ئې خندا ته
یو برېښ د سپوږمۍ شاته په اسمان کښې ځلېدو
یو پړق د سپوږمۍ وړاندې وو په زمکه زما خوا ته



پښتو ډاټ نېټ
pukhto.net

# رنګ د الفتونو

ما رنګ د الفتونو په یو توری کښې بندی کړو
ما ټولې ښکلاګانې په یو ټکی کښې ځائے کړی
هر څو که خلقو دا وئیل چې سیند ته مې دودی کړو
ما رنګ د الفتونو په یو توری کښې بندی کړو
جهان د محبت مې بیا د دې توری قیدی کړو
دا توری ستا نامه ده ما هر څه ترې لوګے کړی
ما رنګ د الفتونو په یو توری کښې بندی کړو
ما ټولې ښکلاګانې په یو ټکی کښې ځائے کړی



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# زۀ ........

زۀ خـــو یـــو ســـېلاب یمـــه روان یمـــه
مـــا تـــه چـــې د شـــانه اواز او نـــۀ کـــړې
زۀ خـــو نـــۀ پـــه بـــل او نـــۀ پـــه ځـــان یمـــه
زۀ خـــو یـــو ســـېلاب یمـــه روان یمـــه
زۀ د خپـــل احســـاس د کلـــی خـــان یمـــه
مـــا تـــه ګـــورې نـــاز او انـــداز اونـــۀ کـــړې
زۀ خـــو یـــو ســـېلاب یمـــه روان یمـــه
مـــا تـــه چـــې د شـــانه اواز اونـــۀ کـــړې


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# یو وخت وو

یو وخت وو چې زما او د رقیب وه دوستانه
ته راغلې اوکړو مونږه دې د یو بل رقیبان
اوس څومره خونړۍ شوه د دوستۍ دا افسانه
یو وخت وو چې زما او د رقیب وه دوستانه
خوشحاله مې په مرګ او زۀ ئې خفه په ژوندانۀ
دوستي مو ستا د لاسه دشمني شوه الامان
یو وخت وو چې زما او د رقیب وه دوستانه
ته راغلې اوکړو مونږه دې د یو بل رقیبان


پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# رنګـــونه

لــه ورایــه مــې نظـر تــه ټــول رنګونــه ځلېــدل
مــا وې د ے پــه لمنــه د اســمان د بــوډۍ تــال
غمونــه د وجدانــه مــې پــه رو رو ورکېــدل
لــه ورایــه مــې نظـر تــه ټــول رنګونــه ځلېــدل
یــو پــړق یــو ځــلا وه لکــه ســتوری پړقېــدل
وو تــال د بــوډۍ چرتــه دا وو ســتا مقېشــی شــال
لــه ورایــه مــې نظـر تــه ټــول رنګونــه ځلېــدل
مــا وې د ے پــه لمنــه د اســمان د بــوډۍ تــال



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# د امن سپین سبا

غوښتنه وړمبنۍ مې ده د امن سپین سبا
بیا پس له دې به اورم او کوم نورې خبرې
چې امن نهٔ وي څه به کوم زهٔ ویره دنیا
غوښتنه وړمبنۍ مې ده د امن سپین سبا
ویر یا به شي الوت مې په هر لوري هره خوا
الوت له تر اسمانه ورکوي امن وزرې
غوښتنه وړمبنۍ مې ده د امن سپین سبا
بیا پس له دې به اورم او کوم نورې خبرې



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# قید

ما وې وائې سندرې هغې کړله واویلا
مرغۍ یوه بندي وه په بندونو د قفس
ارمان ئې په زړګي کښې د الوت لوئې فضا
ما وې وائې سندرې هغې کړله واویلا
نۀ پېـئې ترې موندل او نۀ څه بل څه مدعا
په دې ظلم ظالم مجبوره کړے وو هوس
ما وې وائې سندرې هغې کړله واویلا
مرغۍ یوه بندي وه په بندو نو د قفس



پښتو ډاټ نېټ pukhto.net

# فـــرهـــاد

هــر ضــرب د تېشـــې وو د فرهـــاد د زړۀ پـــه ســر
لمحـــه لمحـــه یـــو غـــر وو پـــه زړګـــی د شـــیرینی
روانـــه شـــوه چینـــه ترینـــه مجبـــوره شـــولو غـــر
هــر ضــرب د تېشـــې وو د فرهـــاد د زړۀ پـــه ســر
خو نرم بـه کـړی څوک د انسـان زړۀ چې شی کمـر
پـــه دې لپاســـه هـــم ورتـــه دروغ اووې بـــوډۍ
هــر ضــرب د تېشـــې وو د فرهـــاد د زړۀ پـــه ســر
لمحـــه لمحـــه یـــو غـــر وو پـــه زړګـــی د شـــیرینی



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# لــه ازلــه

مـا غـم د خپـل اولس ټولـه شپـه خوب تـه نـۀ پرېږدي
تـۀ غـم د خپلـې خېټـې ئـې رااخسـتـے لـه ازلـه
یـو اور د ے چې بـې اوره انـدرون مـې سـوزوي
مـا غـم د خپـل اولس ټولـه شپـه خوب تـه نـۀ پرېږدي
پـه داسـې اولـس تُـف شـه لکـه سـتا چـې زېـږوي
ډوډۍ یـوه ټکـړه چـې انـدازه ئـې کـړي بدلـه
مـا غـم د خپـل اولس ټولـه شپـه خوب تـه نـۀ پرېږدي
تـۀ غـم د خپلـې خېټـې ئـې را اخسـتـے لـه ازلـه



پښتو ډاټ نټ
Pukhto.net

# مزدوره ..... !!!!

لـس کربښـې پـه تنـدی درلـه راښـکلی بـوډا تـوب
بیـا هـم دې پـه اوګـه بانـدې بـوجی ده لـس دړیـزې
مـا بیـا حېرانـوی مـزدوره سـتا دغـه نرتـوب
لـس کربښـې پـه تنـدی درلـه راښـکلی بـوډا تـوب
یـو ورځ بـه د بـوجی لاندې شـې مـړ پـه مېړنتـوب
خولې دې خوراک وینې دې لورکی له دی نکریزې
لـس کربښـې پـه تنـدی درلـه راښـکلی بـوډا تـوب
بیـا هـم دې پـه اوګـه بانـدې بـوجی ده لـس دړیـزې



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# جــانــان

ســتا عکــس پــه ائینــه د جــواهرو دے دُ کــان
دوه ســترګې دې روښــانه ملغلــرې دی پړقیــږی
سورکی شونډې دې داسې چې یاقوت ورته حېران
ســتا عکــس پــه ائینــه د جــواهرو دے دُ کــان
غاښــونه دې مــوتی دی چــې ځلیــږی پــه دهــان
چــې زهٔ درتــه درګورمــه نــو ســترګې مــې برېښــیږی
ســتا عکــس پــه ائینــه د جــواهرو دے دُ کــان
دوه ســترګې دې روښــانه ملغلــرې دی پړقیــږی



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# اســـــلام

راځــه چــې زۀ دې پوهــه پــه معنــی کــړم د اســلام
معنــی ســلامتی پــه خپــل جوړښــت لــری دا تــورے
چــې څــوک هــم مســلمان وی دا کــوی بــه اهتمــام
راځــه چــې زۀ دې پوهــه پــه معنــی کــړم د اســلام
دا هڅــه بــه لــری چــې پــه نــړۍ کــړی امــن عــام
هــر چــالره بــه غــواړی د ســکون او امــن ســبورے
راځــه چــې زۀ دې پوهــه پــه معنــی کــړم د اســلام
معنــی ســلامتی پــه خپــل جوړښــت لــری دا تــورے



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# اتل افغان ته

کوژدن دې مبارک شه درته وایم د زړۀ له تله
ګلشن کښې دې مدام اوسه موسم د نو بهار
الله دې چرته مه کړه خوشحالي په غم بدله
کوژدن دې مبارک شه درته وایم د زړۀ له تله
یم ستا په خوشحالۍ باندې خوشحاله ډېر اتله
خواږه دې رب عطا کړي درته اوس د انتظار
کوژدن دې مبارک شه درته وایم د زړۀ له تله
ګلشن کښې دې مدام اوسه موسم د نو بهار



پښتو ډاټ نېټ
pukhto.net

# د پښتون دبدبه

اې خدایه کړه راستون د بدبه بېرته د پښتون
غیرت ننګ او مړانه دوباره کړه ورعطا
هر مار له پښتو نخوا کړه په مثال د مېږتون
اې خدایه کړه راستون د بدبه بېرته د پښتون
دنیا ورله کنډک کړه اوکړه ساز د دۀ نه شپون
خوره چې ستا نامه کړي او هم امن په دنیا
اې خدایه کړه راستون د بدبه بېرته د پښتون
غیرت، ننګ او مړانه دوباره کړه ورعطا


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# د راز خبره

اغیارو ته به نۀ کړې چرته هم د راز خبره
غلیم ته دې هیڅ کله ښکاره نۀ شي کمزوري
مدام راغورځوي به دې دا راز بیا د کمره
اغیارو ته به نۀ کړې چرته هم د راز خبره
غلیم که کمزوري دې او مونده د زړګي سره
بیا هم د دغه خوږ ګوتې نه تل به دې زوري
اغیارو ته به نۀ کړې چرته هم د راز خبره
غلیم ته دې هیڅ کله ښکاره نۀ شي کمزوري



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# امـــن

جنت دے په دنیا کښې امن دے ښائسته بهار
سور اور دے سره بټۍ ده چې اخته نهٔ شي په جنګ
یو نور یوه ښکلا ده یو فانوس دے زر نګار
جنت دے په دنیا کښې امن دے ښائسته بهار
د امن پیا مبر وی د مومن دے دغه کار
او جنګ خو تباهي ده ، دے واز کومے د نهنګ
جنت دے په دنیا کښې امن دے ښائسته بهار
سور اور دے سره بټۍ ده چې اخته نهٔ شي په جنګ



پښتو ډاټ نټ
Pukhto.net

# دوهٔ سترګې

دوهٔ سترګې مې محبوبې دې بندې ستا د ښکلا
او زړهٔ مې ستا د مینې په پنجره کښې شو قېدې
قدم مې نهٔ اخلي خپې ستا د کوځې نه په بل خوا
دوهٔ سترګې مې محبوبې دې بندې ستا د ښکلا
شپه ورځې مې اوسېږي په مازغو کښې ستا سودا
حېران یمه چې جان دا لا په څه کښې شو قېدې
دوهٔ سترګې مې محبوبې دې بندې ستا د ښکلا
او زړهٔ مې ستا د مینې په پنجره کښې شو قېدې



پښتو
ډاټ نېټ
Pukhto.net

# د ژوندون قیصه

بیا مې د قلم څوکه تېره کړله
شپه مې شوګیره کړه ورته ناست وومه
ما ورته د خپل ژوندون قیصه کړله
بیا مې د قلم څوکه تېره کړله
دا زما قیصې ډوبه اوده کړله
زه ئې نوراني بشر ته ناست وومه
بیا مې د قلم څوکه تېره کړله
شپه مې شوګیره کړه ورته ناست وومه



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# دا سفر

نۀ ګورمه سمه نۀ صحرا نۀ غر
خدایه زۀ تر څو به دا سفر کؤم
چرته به منزل مې شی مزل ته لر
نۀ ګورمه سمه نۀ صحرا نۀ غر
شی به د ازغولارې د ګل ډګر
کله به صدا ئې زۀ په در کؤم
نۀ ګورمه سمه نۀ صحرا نۀ غر
خدایه زۀ تر څو به دا سفر کؤم



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# خواږه وختـــونه

نـۀ هاغـه خـواږه خـواږه وختونـه شـته
نـۀ مـې شـته خوبونـه نـۀ ارام لـرم
نـۀ خـو دې د زلفـو آ تالونـه شـته
نـۀ هاغـه خـواږه خـواږه وختونـه شـته
نـۀ د اننګـو دې انارونـه شـته
نـۀ دې د سـرو شـونډو هغـه جـام لـرم
نـۀ هاغـه خـواږه خـواږه وختونـه شـته
نـۀ مـې شـته خوبونـه نـۀ ارام لـرم



پښتو ورانېټ
Pukhto.net

# پاکستان

قلــزم چــې د ســرو وینــو پــه پنجــاب اوبهیــدو
بیــا پــس لــه هغــې راغــے پــه وجــود کښــې پاکســتان
کــه ښــځه وه کــه نــر او کــه ماشــوم خــو قتلیــدو
قلــزم چــې د ســرو وینــو پــه پنجــاب اوبهیــدو
دا وینــې بهیــدلې پــه رو رو ئــې رنــګ راوړو
تــر دې چــې ئــې غوښــتنې تــه راضــی شــو کــل جهــان
قلــزم چــې د ســرو وینــو پــه پنجــاب اوبهیــدو
بیــا پــس لــه هغــې راغــے پــه وجــود کښــې پاکســتان



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# استاد

ښــائیږي لــه هــر چــا نــه د اســتاد مقــام اوچــت
لاژم دے پــه شــاګرد د دې هســتی ښــه احتــرام
خــو دا چــې د تعلیم ســره ښــه ورکــړي تربیــت
ښــائیږي لــه هــر چــا نــه د اســتاد مقــام اوچــت
بیــا خامخــا بــه مــومي عقیــدت او هــم عــزت
په قدر د خپـل کار به وي بد نام او یا نیک نام
ښــائیږي لــه هــر چــا نــه د اســتاد مقــام اوچــت
لاژم دے پــه شــاګرد د دې هســتی ښــه احتــرام



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# مور او پلار

د مور د پښو د لاندې الله ايښې دې جنت
لازمه په هر چا ده چې خدمت اوکړي د پلار
ممکنه احاطه نۀ ده د مور د محبت
د مور د پښو د لاندې الله ايښې دې جنت
بس مينه ده او مينه ده بس مينه په فطرت
د مينې اوچت غر دې مور د مينې يو يادګار
د مور د پښو د لاندې الله ايښې دې جنت
لازمه په هر چا ده چې خدمت اوکړي د پلار



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# حېرت

هــم دومــره دروازې بــه بېرتــه کيــږی د حېــرت
چــې څــومره ســوچ او فکــر تــهٔ کــوې پــه کائنــات
راځی چې په رو رو دې څو په پوهه کښې وسعت
هــم دومــره دروازې بــه بېرتــه کيــږی د حېــرت
منــی بــه دې زړهٔ خامخــا د لــوئے الله قــدرت
چــې څــومره ژور ځــې تــهٔ پــه تخليــق د مخلوقــات
هــم دومــره دروازې بــه بېرتــه کيــږی د حېــرت
چــې څــومره ســوچ او فکــر تــهٔ کــوې پــه کائنــات



پښتو ډاټ نېټ
pukhto.net

# ســـوات

چې يو ځلې هم اوګښې چرته څوک د سوات اوبهٔ
بيا د غه ئې ارمان وی چې هم دلته شی اباد
هر غر ئې بې بها دے هره سمه ئې ښائسته
چې يو ځلې هم اوګښې چرته څوک د سوات اوبهٔ
چې سيل له ورله راشی پکښې غواړی بيا ميشته
جنت پسې ارمان خو دے فطرت د ادم زاد
چې يو ځلې هم اوګښې چرته څوک د سوات اوبهٔ
بيا د غه ئې ارمان وی چې هم دلته شی اباد



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# ارتقاء

لازمــــه نتیجـــه ده د انســـان د ارتقـــاء
پخپلــه ئــې را جــوړه کړلــه ځــان لــه تبــاهی
پخپله ترینه سر دے غریب اوس په واویلا
لازمــــه نتیجـــه ده د انســـان د ارتقـــاء
پخپله بچی خپل خوری ترینه جوړه شوه بلا
اوس خپله ئې په ځان باندې هم وس کله راځی
لازمــــه نتیجـــه ده د انســـان د ارتقـــاء
پخپلــه ئــې را جــوړه کړلــه ځــان لــه تبــاهی



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# تباهی

انکار کوُمه چرته زهٔ د سائنس له اهمیته
خو دا چې تباهی ئې دومره نهٔ وے جوړه کړې
اوس ولې به انسان چغې وهلې د هیبته
انکار کوُمه چرته زهٔ د سائنس له اهمیته
یو داسې دیو ترې جوړ شو چې هر څه وهی په لته
ښارونه ئې هم وران کړل هم ئې خوشکې هم ئې کلې
انکار کوُمه چرته زهٔ د سائنس له اهمیته
خو دا چې تباهی ئې دومره نهٔ وے جوړه کړې



Pukhto.net

# د ایلم غر

هر څومره که اوچت دے خومره دنګ د ایلم غر
خو ستا د مینې غر سره همسر نۀ دے هیڅکله
منمه چې نن زۀ یمه د هر چا بختور
هر څومره که اوچت دے څومره دنګ د ایلم غر
چې تا مې قدم کېښودو د زړۀ په رهګزر
قبول مې بې له تا د ژوند سفر نۀ دے هیڅکله
هر څومره که اوچت دے څومره دنګ د ایلم غر
خو ستا د مینې غر سره همسر نۀ دے هیڅکله



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# ائینــــه

ځــــومره حېرانـــــه وه نـــــن
ائینـــــه ماتـــــه شــــوله
شـــاخ د آهــــو د ختــــن
ځــــومره حېرانـــــه وه نـــــن
لکــــــه د روح او د تـــــــن
رشــــته میراتــــه شــــوله
ځــــومره حېرانـــــه وه نـــــن
ائینـــــه ماتـــــه شــــوله



پښتو
ډاټ نټ
Pukhto.net

# خدائے خبر....

هسې بې ګناه کیږی ویشتۀ دلته
خدائے خبر لانور به مخکښې څه کیږی
کیږی فیصلې د ژوندانۀ دلته
هسې بې ګناه کیږی ویشتۀ دلته
نۀ پوهیږم زۀ دا کیږی ښه دلته
یا که ناروا دی ټول نا ښه کیږی
هسې بې ګناه کیږی ویشتۀ دلته
خدائے خبر لانور به مخکښې څه کیږی



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# تماشه

ستوري کوي تماشه
سپوږمۍ حېرانه ده نن
ورته حېران زۀ او تۀ
ستوري کوي تماشه
د بې حسۍ په اړه
دنیا روانه ده نن
ستوري کوي تماشه
سپوږمۍ حېرانه ده نن



پښتو ډاټ نیټ
Pukhto.net

# ګلالۍ

بلوسېدله مې په مخ رو رو سیلۍ
په یو سوچ کښې ورته ناست وومه مدهوشه
راته غوږ کښې مې دا اووې ګلالۍ
بلوسېدله مې په مخ رو رو سیلۍ
لږ را اوځه د یادونو د ډولۍ
دا دنیا کړه را ودانه دې له هوشه
بلوسېدله مې په مخ رو رو سیلۍ
په یو سوچ کښې ورته ناست وومه مدهوشه



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# د زړهٔ صبـــر

ژوندون دلتـه درتـه ګـران هسـې نـور مـه شـه
خـدائے دې درکـړی درلـه جانـه د زړهٔ صـبر
بـې ریـا شـه پـاک بـاطن شـه ائینـه شـه
ژوندون دلتـه درتـه ګـران هسـې نـور مـه شـه
شه عـالـم ، خدائے دې کړی پوهـه پـه هر څـه شـه
شـه بُردبـاره ، تـوان پـه زړهٔ مومـمـه د جبـر
ژوندون دلتـه درتـه ګـران هسـې نـور مـه شـه
خـدائے دې درکـړی درلـه جانـه د زړهٔ صـبر


پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# د نن پښتون

بې وجې بې سببه بې قصوره شو بدنام
افسوس به زۀ کۀمه لاتر څو په پښتنو
په داسې بلا ګیر دی هیڅ ئې نشته انتظام
بې وجې بې سببه بې قصوره شو بدنام
سحر ئې خپل سحر او نۀ ماښام ئې خپل ماښام
دا څه خبرې دوئ کړلو بندی په زولنو
بې وجې بې سببه بې قصوره شو بدنام
افسوس به زۀ کۀمه لاتر څو په پښتنو



پښتو ډاټ نېټ
pukhto.net

# اختـــر

بیـــا پـــه اوګـــو د روژو
راغلـــے ســـور اختـــر دے
مـــه کـــوئ غـــم اوس هـــډو
بیـــا پـــه اوګـــو د روژو
د لـــر او بـــر پښـــتنو
نـــن پـــه هـــر لـــور اختـــر دے
بیـــا پـــه اوګـــو د روژو
راغلـــے ســـور اختـــر دے

# طنـــاب



پښتو ورلډ
pukhto.net

دا ســـتا د زلفـــو طنـــاب
لکـــه د ے تـــال د بـــوډۍ
د ځـــو لمحـــو پـــه حســـاب
دا ســـتا د زلفـــو طنـــاب
زمـــا د مینـــې دا بـــاب
چـــې تـــر انجامـــه رســـئ*
دا ســـتا د زلفـــو طنـــاب
لکـــه د ے تـــال د بـــوډۍ

* رسوی



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net



که فرانسیسی محقق ډارمستېتر په نولسمه صدی عیسوی کښې د پښتو شعرونو هار و بهار خپلې ژبې او خپل اولس ته سوغات کولے شی، نو زمونږ دا پروفیسر نقیب احمد جانؔ دې ولې یو مقبول فرانسیسی صنف پښتو او پښتونخوا ته مُنجره نه کړی.

پروفیسر محمد نواز طائر

دا اوس ئې د خپلې خیالولی درخانی ژبې ښائسته غونډې زنې له یو نوے خال له پېرسه راوړ..... (ترائیولټ).....د فرانسوی ادب لپاره د ویاړ ځائے دے چې یو توکے ئې د پښتو د ویښتو ول شو.

بدر الحکیم حکیم زے

زمونږ ګران ملګرےنقیب احمد جان چې د پښتو ژبې او ادب یو بې غرضه مئین دے ۔ د دهٔ دا زیار چې د ترائیولټ نمونه ئې پښتو ته هم را پېرزو کړه، یقیناً د ستائینې او د اد کار ئې اوکړو ۔ او طمع لرم چې پښتانهٔ لیکوال او پښتون قام به ئې د دې کار تل عمری ستائینه کوی.

پروفیسر شبر زمان سیماب

JK Jan
جان کتاب کور
JAN0345K9516961K5